## د MMR واکسين

د 6 مياشتو اوله هغه ځخه زيات او يا بالغو ماشومانو د والدينو لپاره معلومات

**د MMR واکسين نوم څه دی؟**

د MMR واکسين نوم يا هم پريوريکس (Priorix ) يا ام ام ار واکس پرو (MMRVaxPro) دی.

**د MMR واکسين د کومو ناروغيو په وړاندې ساتنه کوي؟**

د MMR واکسين تاسو يا ستاسو ماشوم د شری، ممپس او روبيلا (چه د الماني شری په نوم هم يادېږي) څخه ساتي.

شری، ممپس او روبيلا د ويروسونو له امله رامينځته کيږي او خورا ساري ناروغۍ دي. دا هغه وخت خپريږي کله چې ويروس له يو په ناروغۍ اخته کس څخه بل هغه کس ته چه دهغه په وړاندې هيڅ محافظت ونلري انتقال شي.

| ناروغي | عام علايم | احتمالي پيچلتياوي |
|---|---|---|
| شری | تبه<br>داني<br>سرې دردناکه سترګې | انکفلايټس (د دماغ پړسوب)<br>د سږو التهاب<br>د وچې غاړې التهاب<br>د غوږونو انتانات |
| ممپس ( ډاډاغونی يا کله چرک ) | د ژامې لاندې غودو دردناکه پړسوب او تبه | منتجيتسټ ( د دماغو د پردو التهاب) کوڼ والی په بالغو اشخاصو کې د بيضو پړسو او درد |
| روبيلا( جرمنی شيری ) | تبه او داني | که اميندواره ښځه په روبيلا ناروغۍ اخته شي، د هغې ماشوم ممکن د زېږون له نيمګړتياو لکه ړوندوالی، عصبی زيان، کوڼوالی، د زړه ستونزې او نور جدي نيمګړتياوسره مخ شي. |

**د MMR واکسين معمولا کله ورکول کيږي؟**

په آيرلينډ کې، ماشومانو ته د دوی لومړی MMR واکسين د 12 مياشتو په عمر کې ورکول کيږي.

ماشومان ددوي دهم دوز په 4-5 کلنۍ کې تر لاسه کوي معمولان کله چې دوي په ابتدايه ښونځي کې وي. د MMR واکسين دوه دوزونه غوره خونديتوب ورکوي.

که ستاسو ماشوم مخکې هيڅ د MMR واکسين نه وي ترلاسه کړی، دوي بايد ژر تر ژره د واکسين لومړنی دوز ترلاسه کړي او بيا دوهم دوز د لومړني دوز څخه 1 مياشت وروسته ترلاسه کړي

هغه لويان چې مخکې يې هيڅ د MMR واکسين نه دی ترلاسه کړی دوي هم بايد يو دوز ژر تر ژره ترلاسه کړي اوبيا له هغه يوه مياشت وروسته دوهم دوز ترلاسه کړي.

**دشري له ناروغۍ سره له له نيږدې په تماس کې کيدل**

شری يوه ډېره ساري ناروغي ده. که تاسو وکسين شوي نه ياست او يا په تير کې مو د شري ناروغي نوي تيره کړي نو ډير احتمال شته چې تاسو به په دې ناروغۍ اخته شی. که تاسو د شري ناروغۍ سره له نيږدې په تماش شوي يې نو تاسو ته ممکن د روغتيايي ډاکترانو لخوا د MMR وکسينو وهلو سپربښتنه وشي. دا به ستاسو د شري په ناروغۍ د اخته کيدو چانس را کم کړي.

**ايا د 12 مياشتو څخه کم عمر لرونکي ماشومان د MMR واکسين ترلاسه کولی شي؟**

که چيرې د شري شيوع موجوده وي، ممکن ستاسو له 6 مياشتو پورته ماشومانو لپاره د MMR واکسين سپارښتنه وشي ترڅو د شري په وړاندې د هغوي ساتنه کې مرسته وکړي. که ستاسو ماشوم له 12 مياشتو په کم عمر کې د MMR واکسين ترلاسه کړي دوي بايد بيا هم د عمر په 12 مياشتنۍ کې د نوموړی واکسين يو دوز ترلاسه کړي، دا دوي ته غوره محافظت ورکوي. اوبيا بايد يوبل دوز د عمر 4-5 کلنۍ کې ترلاسه کړي.

توليد شوی: د HSE ملي معافيت دفتر لخوا توليد شوی
د خپرولو نېټه : May 2022

**معمولاً د MMR واکسین د عمر**
**په 12 میاشتنی کې ورکول کیږي ځکه چې واکسین په دې عمر ډیر ښه کار کوي.**

**هغه میرمنې چې د امیند واره کیدو پلان لري**

که تاسو د امیندواری پلان لرئ نو سپارښتنه کیږي چې تاسو د امیندواری دمخه د MMR واکسین یو دوز ترلاسه کړئ، که تاسو مخکې هیڅکله واکسین نه وي وهلي. دا به تاسو د امیندوارۍ په جریان کې د روبیلا ناروغۍ په وړاندې ساتي، کوم چې ستاسو ماشوم ته د جدي طبي ستونزو لامل کیدی شي که تاسو په نوموړې ناروغی اخته شئ.

**ایا داسې خلک شته چې باید د MMR واکسین ترلاسه نکړي؟**

- ډیر لږ خلک شته چې باید د MMR واکسین ترلاسه نکړي. هغه خلک باید واکسین ترلاسه نکړي که چیرې:
- دوی د MMR پخوانۍ واکسین سره شدید عکس العمل( انافلاکسیس) درلودلی وي، د واکسین له هرې برخې سره.
- د نیو مییسن ( neomycin ) او یا جیلاتین ( gelatin ) سره شدید عکس العمل ( anaphylaxis ) درلولی وي، کوم چې د MMR په واکسین کې شتون لري.
- هغه ماشومان چې عمرونه یې له 12 میاشتو څخه کم وي او مور یې د امیندوارۍ په اوږدو کې د چلډرن اینفلیکسیماب ( Children infliximab ) له درملو استفاده کړې وي باید د MMR واکسین ورنکړل شي.
- هغه ماشومان چې د مور شیدې خوري او مور یې له infliximab درملو استفاده کوي.

که تاسو امیندواره یاست، تاسو باید د MMR واکسین ترلاسه نکړئ. تاسو باید د واکسین ترلاسه کولو وروسته د یوې میاشتې لپاره امیندواره کیدل وځنډوئ. تاسو کولی شئ په خوندي ډول د MMR واکسین وهلو وروسته د مور شیدې ورکړئ.

د MMR واکسین وهل د وځنډول شي که چیرې هغه څوک چې غواړي واکسین شي:

- ناروغه او لوړه تبه لري
- د کورتیکوسټراید ( corticosteroids ) ددرملو له لوړ دوزه څخه استفاده کوي
- د کیمو تراپي او یا راډیو تراپي درملنې لاندې وي
- داسې یوه ناروغي لري چې د دوی معافیت سیستم یې اغیزمن کړی.

ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي تاسو ته مشوره درکړي که چیرې اړتیا وي چه باید ستاسو واکسین وځنډول شي.

**ایا د MMR واکسین اوخیال پرستی ناروغی (autism) ترمنځ اړیکه شته؟**

نه. څیړنو ښودلې چې د MMR واکسین او د خیال پرستی ناروغی ترمنځ هیڅ اړیکه نشته.

**آیا د MMR واکسین کوم جانبي عوارض لري؟**

ډیری خلک د واکسین کولو وروسته کومه ستونزه نلري.

ځینې خلک پچکارۍ شوي ساحه کې درد،پړسو ، او سوروالی پیداکوي.

په ندرت سره ماشومان ممکن له 6 څخه تر 10 ورځې وروسته په "کوچنۍ شري" د واړو دانو او تبې سره اخته شي.

ماشومان ممکن د واکسین کولو څخه وروسته په دریمه هفته کې په " کله چرک " اخته شي او د ژامې په ساحه کې د پړسوب پیداکړي. دا ساري نه دي او د څو ورځو وروسته ختمیږي.

تاسو دخپل ماشوم د درد او تبې کمولو لپاره کولی شئ چې پریسټامول او ایبوریفین ورکړئ.

**نور معلومات**

که تاسو کومه پوښتنه اویا معلوماتو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د خپل واکسین کونکي ، ډاکټر اویا نرس سره پرې خبرې وکړئ.

تولید شوی: د HSE ملي معافیت دفتر لخوا تولید شوی
د خپرولو نېټه : May 2022

Translated by HSE Health Protection Acute Operations Response Programme: December 2022

د واکسینونو په اړه د نورو
معلوماتو لوستلو لپاره www.immunisation.ie ته مراجعه وکړئ. د دې ساري ناروغیو په اړه د معلوماتو لپاره
www.hpsc.ie ته مراجعه وکړئ.

تاسو کولی شئ په www.hpra.ie کې د واکسینونو لپاره د ناروغ معلوماتو پاڼو لینکونه هم ومومئ. د اړونده ناروغ معلوماتو پاڼې
لوستلو لپاره د Priorix یا (MMR) MMRVaxPro ولټوئ.

تولید شوی: د HSE ملي معافیت دفتر لخوا تولید شوی
د خپرولو نېټه : May 2022

Translated by HSE Health Protection Acute Operations Response Programme: December 2022